# د سلیم خور څه وویل؟

Nina Orange
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid
4
پښتو ps

یو سهار وختي د سلیم انا هغه ته غږ وکړ، “سلیمه! مهرباني وکړه دا هګۍ خپل مور او پلار ته یوسه، ستا مور او پلار غواړي چې ستاسو د خور د واده لپاره غټ کېک پوخ کړي”.

په لاره کې، سلیم دوه هلکان ولیدل چې میوه یې راټولوله. یوه هلک له سلیم څخه هګۍ واخیستله او په ونه یې وویشتله. هګۍ ماته شوه.

سليم خفه شو او په غوسه يې ورته وويل، “دا دې څه وکړل!!!”
سليم په ژړغوني غږ وويل، “دا هڅې خو زما د خور د کيک پخولو لپاره وه، که کيک نه وي، خور به مې څه وايي؟؟”

هلکانو د سلیم په څورولو بخښنه وغوښته. یو هلک وویل: "مور د کېک په اړه درسره مرسته نه شو کولی، مګر دا ستا د خور امسا یا د تلو لکڼه ده." سلیم روان شو.

سلیم کور ته په لاره دوه سړیان ولیدل چې کور جوړوي، سړیو له
سلیم څخه غوښتنه وکړه، او ویې ویل "ایا مورږ کولای شو چې د
چت لپاره دا قوي لکڼه وکاروو،" سلیم وویل، "هو!" سړیان لرګي را
واخسته خو ماته شوه او دومره قوي نه وه چې د کور جوړولو لپاره
دې ترې ګټه واخیستل شي.

سلیم وویل “تاسو دا څه وکړل؟” سلیم ژړل. “دا لکڼه زما د خور ډالۍ وه. د میوو ټولوونکو هغه لکڼه ماته ځکه راکړه چې دوی د کیک لپاره هګۍ ماته کړې وه او هغه کېک زما د خور د واده ؤ. اوس نو نه هګۍ شته، نه کېک شته او نه هم ډالۍ. زما خور به اوس څه ووايي؟”

خټګرو د لرګي په ماتولو بخښنه وغوښته. یو سړی ورته وویل: “مورِ د کېک په اړه درسره مرسته نه شو کولی ، مګر دلته ستاسو د خور لپاره یو غوړګې یا واښه دی.” نو سلیم دا واخیست او روان شو.

د لارې په اوږدو کې، سلیم یوه غوا او بزګر ولیده. غوا له سلیم څخه وپوښتل. "څومره خوندور واښه، کولی شې لږ راکړې؟" خو واښه دومره خوندور وو چې غوا ټول وخوړل!

سلیم وویل “تاسو دا څه وکړل؟” سلیم ژړل، “دا وانښه زما د خور لپاره ډالۍ وو، خټګرو ما ته دا وانښه ځکه راکړل چې هغوی د میوو راټولونکو هغه لرګي چې یې ماته راکړې وه ، ماته کړې وه. میوو راټولونکو ماته هغه لرګي ځکه راکړي وه چې هغوی زما د خور د کېک لپاره هګۍ ماته کړې وه. کېک زما د خور د واده لپاره و. اوس نه هګۍ شته، نه کېک او نه هم ډالۍ، خور به مې څه وایي؟”

غوا بخښنه وغوښته، بزګر ومنله چې دا غوا د ځان سره د خپلې خور لپاره د ډالۍ په توګه له ځان سره بوځي. نو ځکه سلیم هغه له ځانه سره روانه کړه.

خو غوا د ماښام مهال بېرته بزګر ته وتښتېده. نو هماغه و چې په سليم ډېر ناوخته شو. هغه د خپلې خور واده ته په داسې وخت کې ورسېده، چې میلمنو د شيې ډوډۍ خوړله.

سلیم ژړل، ”زه څه وکړم؟“ ”هغه غوا چې وتښتېده یوه ډالۍ وه، د هغه ونبو په بدل کې چې ختګرو ماته راکړې وه. ختګرو ماته څکه وانښه راکړه، چې هغه لکڼه یې راته ماته کړه، کومه چې د میوو ټولوونکو ماته راکړې وه. میوو ټولوونکو هغه لکڼه څکه ماته راکړې وه چې هغوی د کېک لپاره هګۍ ماته کړې وه، اوس نو نه هګۍ شته، نه کېک، او نه هم ډالۍ.“

د سلیم خور لږ څه فکر وکړ، بیا یې وویل: “سلیمه وروره، زه د ډالیو ډېره پروا نه لرم، د کېک پروا هم نه لرم، دا چې موږ ټول دلته سره یو ځای راټول شوي یو، ډېره خوشحاله یم، اوس نو خپلې جامې واغونده، او راځه چې دا ورځ ولمانځو!” سلیم همداسې وکړل او د واده په خوښۍ کې یې برخه واخیسته.

Global Storybooks

globalstorybooks.net

# د سليم خور څه ووېل؟


Nina Orange
Wiehan de Jager
Zahidullah Abid


CC BY